عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۵/۳۰

# بډایه پښتو

د نوې ساینسي ژبپوهنې، اروا پوهنې، فیلوسوفي، ټولنپوهنې، ماناپوهنې، سېمبول پېژندنې او د تاریخي - تکاملي بشرپېژندنې پر زمکو نویو څېړنو ورو ورو د (ژبې) پېژاند او تعریف بدل کړ. اوس ژبه یوازې د پوهاوي راپوهاوي (افهام و تفهیم) وسیله(!) نه، بلکې پخپله افهام و تفهیم ده.
د ژبې تړاو له اند (فکر او تفکر) سره او دا چې ژبه د فکر عناصر زېږوي، که فکر خپله منځپانګه د ژبې په قالبونو کې وړاندې کوي، یوه جدي پوښتنه ده. چې د یوې ناندریزې مخامختیا (دیالېکتیک) په بڼه یې د پوهنو ګڼ تیاره ګوټونه رڼا کړي دي.
د اپلاتون د مُثل تیوری پربنسټ؛ د انساني تفکر لومړنی زېږېلګې (هستوونکي قالبونه یا موډلونه) په ژبه کې دي او هرهغه څه چې په دغو قالبونو کې بڼه مومي، روسته د قراردادي جولو په توګه مفاهیم تولیدوي او انسانان یې کاروي (مصرفوي).
فیزیک، ریاضي او نور ساینسي علوم پر ژبه ولاړ دي او ژبه د معرفت بنسټ ده.
ورو ورو دې ته رسیږو، چې ومنو: « ژبه د پوهنو مور ده.»
تر دې لنډې سریزې روسته، غواړم ووایم، چې د ژبې او ادب د یوه شاګرد په توګه مې څېړنیزې تجربې ښیي، چې پښتو د یوې بډایې ژبې په توګه د ټولو علومو د (بیان) توان لري. دا ژبه په هرڅومره لوړ کچ د ټولو علومو د ښوونې لپاره پوهنتوني کېدلای شي.
یوازې دغه زور، وروست، سولېدلی او ناسم باور باید د تاریخ خځللوښي ته وغورځوو، چې پښتو یوازې د کلیوال چاپېریال یوه بېوزلې او روسته پاتې ژبه ده، نو ګواکې د نویو علومو زدکړه ښایي په انګریزي یا نورو ژبو کې وشي.
دا انګېرنه بشپړه ناسمه او ښکېلاکې ده.
د ملتپالنې په پړاو کې روسته پاتې اروپایي ژبو څنګه د پیاوړې لاتین ژبې ځای په ټولو پوهنتونونو کې ورخپل کړ؟ او لاتین یې، چې د کوم ځانګړي ملت ژبه نه وه، په ډېر درناوي په کفن کې ونغاړله؟ کټمټ داسې کار له سانسکریټ سره په هیندویي اقلیم کې هم وشو.
فرانسوي، جرمني، رومي، هسپانوي، پرتګالي او په ختیزه اروپا کې سلاویکو ژبو (له هغوی څخه روسي) څنګه له لاتین څخه ټولې پوهنې ورخپلې کړې، دا د دغو ملتونو یو ملي جسارت، ژمنه، هوډ او زړورتیا وه، چې موږ ښایي وروورسېږو.
پېړۍ پېړۍ پخوا پارسي/دري ژبې همداسي پاڅون د عربۍ په وړاندې وکړ او بریالۍ شوه.
تر شکسپیر وړاندې انګریزي د خوشال خټک د زماني تر پښتو ډېره روسته پاتې او کمزورې ژبه وه، راشه نن یې وګوره!
پښتو په زغرده پوهنتوني کېدلای شي، یوازې ملي هوډ، ژمنه، زړورتیا او د دې رېښتیا منښت غواړي، چې دا یوه بډایه ژبه ده او خپلو ویونکیو ته هرڅه ورکولای شي.
د پښتو ورځ مو بختوره!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ